## PAIN څه شی دی؟

د روغتون څخه دمخه د درد د آرامولو مداخلي آزمايښت، يا په ساده ډول PAIN، يوه څيړنيزه مطالعه ده چې د درد دوه درمل، fentanyl او ketamine د پرتلې په موخه په هغو ناروغانو کې چې دردناک ټپونه لري او روغتون ته د رسيدو دمخه د درد درملنې ته اړتيا لري.

د جدي ټپي کيدو وروسته د درد اداره کول د ټپي شوي ناروغ د پاملرنې يوه مهمه برخه ده. افيونه يا ترياک، لکه fentanyl، معمولا د درد درملنې لپاره کارول کيږي. دا څيړنه fentanyl له ketamine سره پرتله کوي، کوم چې افين يا ترياک نه دی، ترڅو دا معلومه کړي چې ايا خلک د يو درمل په پرتله د بل درمل لږ يا لږې شديدې اړخيزې اغيزې لري او که نه. موږ به د دې مطالعې پايلې وکورو ترڅو د راتلونکې صدماتو لرونکو ناروغانو کې د درد درملنې غوره لاره په ښه توګه وپيژنو.

## څه شی دا د باخبره رضايت ورکړل شوي (EFIC) مطالعې څخه مستثنی کوي؟

لاندې لينک ته مراجعه وکړئ يا د مطالعې ټيم ته په (PAINStudy@uvmhealth.org) اړيکه ونيسئ او د توضيحاتو لپاره ترې وپوښتئ چې ولې دا څيړنه د باخبره رضايت د استثنا په حالت کې ترسره کيږي ›
https://www.litesnetwork.org/projects/emergency-research

## دا مطالعه څنګه تنظيميږي؟

لاندې لينک ته مراجعه وکړئ يا د مطالعې ټيم ته په (PAINStudy@uvmhealth.org) اړيکه ونيسئ او د توضيحاتو لپاره ترې وپوښتئ چې دا او د EFIC ټول مطالعات څنګه تنظيم او څارل کيږي ›
https://www.litesnetwork.org/projects/emergency-research

## په دې څيړنه کې به څوک شامل کړی شي؟

په PAIN کې به ټول هغه ځوانان شامل شي څوک چې:

- نارينه 18 کلن او يا زيات عمر لرونکي وي او ښځينه 50 کلنې يا له دې پورته عمر لرونکې وي
- سخت ټپي شوي ناروغان چې د رګونو له لارې د درد درملو ته اړتيا لري
- روغتون ته ليږدول کيدونکي ناروغان چې په PAIN کې برخه اخيستونکي دي

دا مطالعه په کوم ځای کې ترسره کيږي؟

دا څيړنه په ټول هيواد کې د صدماتو په لاندې مرکزونو کې ترسره کيږي:

- د UPMC Presbyterian روغتون او UPMC Mercy روغتون (Pittsburgh, PA)
- د Allegheny عمومي روغتون (Pittsburgh, PA)
- د Cooper پوهنتون روغتون (Camden, NJ)
- د Froedtert روغتون (Milwaukee, WI)
- د UC San Diego طبي مرکز (San Diego, CA)
- د Zuckerberg San Francisco عمومي روغتون (San Francisco, CA)
- د Cincinnati پوهنتون طبي مرکز (Cincinnati, OH)
- د Utah پوهنتون روغتون (Salt Lake City, UT)

- د Carolinas طبي مرکز (Charlotte, NC)
- د Robert Packer روغتون (Sayre, PA)
- د Vermont پوهنتون طبي مرکز (Burlington, VT)
- د Wisconsin په پوهنتون کې د پوهنتون روغتون (Madison, WI)

دا مطالعه به څومره وخت دوام وکړي؟
دا مطالعه به په څو کلونو کې تر 994 نفرو پورې ناروغان ثبت کړي. د LITES EFIC ټولو پروژو په څیر، د مطالعې وضعیت اړوند تازه معلومات به په https://clinicaltrials.gov/study/NCT05437575 کې نشر کړی شي.

<u>د دې مطالعې مالي تمویل څوک کوي؟</u>
دا څیړنه د دفاع وزارت (DoD) د W81XWH-16-D-0024 تړون لخوا ملاتړ کیږي، د دندې حکم W81XWH19F0539 د شواهدو پر بنسټ، د ژوند ژغورنې تخنیکونو او ستراتیژیو د غوره صدماتو پاملرنې خدماتو چمتو کولو د موخې په پار.

<u>ولې د روغتون دمخه په ترتیباتو کې د درد مدیریت؟</u>
د صدمې ناروغان چې سخت ټپونه لري باید ژر تر ژره د درد درمل ترلاسه کړي. د شدید ټپ څخه وروسته ژر تر ژره د درد درمل ورکول ډیری ګټې لري، په شمول د:

- د درد کموالی
- د EMS خدماتو چمتو کونکي دې ته پرېږدي ترڅو په اسانۍ سره د ژوند ژغورونکي درملنې (د بیلګې په ډول ټورنیکیټونه (ګاز)، سپلینټ(ګچ)) ورکړي.
- کولی شي د ټپي کیدو له امله رامینځته شوي روغتیایی ستونزې کمې کړي
- کیدای شي اوږدمهاله ستونزې کمې کړي لکه اوږدمهاله درد او د صدمې وروسته اختلال (PTSD)

<u>په داسې حال کې چې دا دواړه د پیرامیډیک (د بیړني حالت ډاکټر) لخوا کارول کیږي ولې دا درمل د څیړنېزې مطالعې برخه دي؟</u>
د سخت ټپي کیدو وروسته د درد اداره کول د ټپي شوي ناروغ د پاملرنې لازمي برخه ده. افیونه یا تریاک، لکه fentanyl، معمولا د درد درملنې لپاره کارول کیږي. دا څیړنه fentanyl له ketamine سره به پرتله کړي، کوم چې افین یا تریاک نه دی، ترڅو دا معلومه کړي چې ایا خلک د یو درمل په پرتله د بل درمل لږ یا لږې شدیدې اړخیزې اغیزې لري او که نه. Fentanyl او ketamine دواړه اوس مهال روغتون ته د رسیدو دمخه د ناروغانو د درد درملنې لپاره کارول کیږي ، مګر دا معلومه نده چې کوم یو یې د دردناک ټپونو لرونکو ناروغانو لپاره خوندي دی. موږ دا څیړنه د دې لپاره کوو ترڅو معلومه کړو چې کوم یو درمل د بل په پرتله خوندي دی.

<u>د دې درملو خطرونه څه دي؟ کومې ګټې لري که نه؟</u>
په څیړنه کې ناروغان به د درد د مدیریت په پار fentanyl یا ketamine ترلاسه کړي.

د درد هر درمل احتمالي خطرونه لري؛ په هرصورت، دا نادر دي، په ځانګړي توګه په ټیټ دوزونو لرونکو درملو کې کوم چې پدې څېړنه کې به ورکړل شي. Fentanyl د ويني ټيټ فشار، د اکسیجن ټيټي کچې، او د تنفسي ټیوب اړتیا سره تړاو لري. په ځینو حالاتو کې، ketamine ممکن د وهمونو، اضطراب، خپګان، یا د جلا کیدو احساساتو لامل شي.

موږ ډاډه نه یو چې د یو درمل پر ځای د بل درمل ترلاسه کول ګټي لري او که نه، مګر څېړونکي فکر کوي چې د ketamine ټیټ دوز ممکن د مرګ خطر کمولو او د جدي ټپي ناروغانو لپاره چې د درد په حال کې دي جدي روغتیایي اغیزو په کمولو کې به خورا ښه وي.

## خلک څنګه په مطالعې کې شامل شوي دي؟

خلک ممکن د PAIN په مطالعه کې په دې شکل شامل شوی وي څوک چې سخت ټپونه ولري، د درد درملو ته اړتیا ولري، او روغتون ته لیږدول کیږي ترڅو د PAIN په مطالعه کې برخه واخلي.

په عمومي ډول، څېړونکي باید د يو کس څخه د دوی رضایت وغواړي مخکې له دې چې دوی په مطالعه کې شامل شي - دا پدې مانا ده چې معلومات باید ولوستل شي، د ډاکټرانو او نرسانو سره خبرې وشي، او د دې په اړه د فکر کولو لپاره باید وخت لري ترڅو دا پریکړه وکړي چې آیا ګډون وکړي او که نه. د شدید دردناک ټپونو درملنه باید سمدستي وشي، نو په دې اساس د ټپي شوي کس سره دومره وخت به نه وي چې د PAIN آزمايښت کې د ګډون په پار رضایت ورکړي. ځینې وختونه څېړونکي کولی شي د ناروغ د کورنۍ سره خبرې وکړي ترڅو د رضایت غوښتنه ورڅخه وکړي. په هرصورت، د دردناک ټپ په بیړني حالت کې، کورنۍ اکثرا شاوخوا نه وي یا مخکې له دې چې د ټپي شوی شخص باید درملنه وشي په هغه ځای کې نه موندل کیږي.

دا څېړنه د رضایت ترلاسه کولو دمخه د خلکو د شاملولو لپاره د ځانګړي اجازې پرته نشي ترسره کیدی. دا اجازه د باخبره رضایت څخه مستثنی، یا EFIC بلل کیږي. کله چې شامل شوی کس ښه شي او کولی شي رضایت ورکړي یا د دوی کورنۍ روغتون ته راورسیږي، څېړونکي به مطالعې ته د دوام ورکولو په پار ترې رضایت وغواړي. د EFIC په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ دې ته مراجعه وکړئ:
[https://www.litesnetwork.org/projects/emergency-research](https://www.litesnetwork.org/projects/emergency-research)

## څنګه کولای شم د مطالعې څخه ځان بهر کړم؟

تاسو کولی شئ 1-800-664-0557 شمیرې ته په زنګ وهلو سره، او یا هم PAINstudy@edc.pitt.edu ته د بریښنالیک په لیږلو سره د مطالعې څخه ځان بهر کړئ، یا د [www.LITESnetwork.org/PAIN](http://www.LITESnetwork.org/PAIN) په پاڼه کې د فورمې ډکولو پذریعه ترڅو د LITES شبکه وکولی شي تاسو ته د هایپوالرجینیک سیلیکون لاس بند درکړي کوم چې دا په ګوته کوي چې تاسو باید په مطالعه کې شامل نشئ.

که تاسو غواړئ چې د ټپي کیدو وروسته په مطالعې کې د ګډون څخه انکار وکړئ، تاسو کولی شئ د EMS لخوا د درملنې په وخت کې ترې انکار وکړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د مطالعې څخه بهر کیدل غوره کول یوازې پدې معنی دي چې تاسو به د مطالعې برخه نه یاست. د مطالعې څخه ځان بهر کول به ستاسو د نورمال پاملرنې برخې په توګه د درد درملو ترلاسه کولو مخه ونه نیسي.

<u>څه به پېښ شي که چیری یو کس د مطالعې څخه د بهر کیدو غوره کولو لاس بند ترلاسه کړي، مګر د EMS لخوا د درملنې په وخت کې يې نه وی په لاس کړی؟</u>
که تاسو د مطالعې څخه د بهر کیدو غوره کولو لاس بند ترلاسه کړی وي مګر تاسو د ټپي کیدو په وخت کې نه وی په لاس کړی، دا ممکنه ده چې تاسو به په څېړنه کې شامل شئ، پرته لدې چې تاسو یا ستاسو سره کوم یو ملګری د دې توان ولري چې ووایی چې تاسو نه غواړئ په څېړنه کې شامل شئ. که دا پيښ شي، تاسو ممکن د مطالعې درمل، fentanyl citrate یا ketamine hydrochloride ترلاسه کړئ، چې دواړه معمولا ټپي ناروغانو ته د درد درملنې لپاره ورکول کیږي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د مطالعې څخه بهر کیدل غوره کول یوازې پدې معنی دي چې تاسو به د مطالعې برخه نه اوسئ. د مطالعې څخه ځان بهر کول به ستاسو د نورمال پاملرنې برخې په توګه د درد درملو ترلاسه کولو مخه ونه نیسي (احتمالا له دې دوه درملو څخه یو به پکې شامل وي).

<u>که زه پریکړه وکړم چې په تعقیبي تماسونو کې برخه واخلم، د 6 میاشتنۍ تعقیب دورې کې زما مکلفیتونه څه دي؟ د کومو معایناتو او لیدژمنو تمه باید وکړم؟</u>
شپږ میاشتنۍ تعقیب په بشپړه توګه داوطلبانه دی. که تاسو نه غواړئ چې برخه پکې واخلئ، تاسو سره به د مطالعې د ټیم لخوا اړیکه ونه نیول شي.

که تاسو غواړئ په دې مطالعه کې ګډون وکړئ او خپل رضایت ورکړئ، هیڅ اضافي طبي معاینو یا لیدژمنو ته ضرورت نشته. ددې پرځای، تاسو به د مطالعې ټیم ته خپل د اړیکو معلومات ورکړئ او د درد، اضطراب او درد درملو سره د خپلو تجربو په اړه یوه سروې بشپړه کړئ. د مطالعې ټیم به تاسو سره په 3 میاشتو او 6 میاشتو کې بیا اړیکه ونیسي ترڅو د جاري درد، درد درملو، اضطراب او د صدماتو وروسته د فشار اختلال په اړه درڅخه پوښتنې وکړي. تاسو کولی شئ په دې سروې کې په هر وخت کې خپله برخه اخیستل ودروئ.

<u>څه به پېښ شي که چیری یو کس ګډون نه کول غوره کړي؟</u>
په څېړنه کې ګډون کول هر وخت ودرول کیدی شي - ناروغ یا د کورنۍ مناسب غړی یوازې مکلف دی چې د مطالعې ټیم ته ددې په اړه ووایی.

که په هر وخت کې ناروغ، یا د کورنۍ غړي یې که چیرې ناروغ ناتوانه وي، دا ووایي چې دوی نه غواړي په مطالعه کې ګډون وکړي، دا د دوی حق دی. که چیرې داسې پیښ شي مخکې له دې چې د مطالعې درمل ورکړل شي، ناروغ به د معیاري طبي پاملرنې سره سم د دوی د حالت په اساس درملنه یې کیږي په شمول د درد درمل ترلاسه کول چې کیدای شي د fentanyl citrate یا ketamine hydrochloride پکې شامل وي.

په روغتون کې، د څېړنې کارمندان به ناروغ او د هغه د کورنۍ غړو ته مطالعه تشریح کړي او د ناروغ لپاره د رضایت غوښتنه به تری وکړي ترڅو مطالعې ته دوام ورکړي. که چیرې ناروغ، یا د کورنۍ غړی که چیرې ناتوانه وي، رضایت ور نکړي یا ووایي چې دوی نه غواړي پدې خبرو اترو کې برخه واخلي یا د مطالعې درملو ورکولو وروسته هر وخت، د دوی د طبي ریکارډونو یا سوابقو بیاکتنې (د خوندیتوب لپاره او چې دا معلومه کړي چې یو درمل ممکن د بل څخه غوره وي) به ودروي او دوی به د مطالعې اړوند سروې بشپړې نه کړي.

**<u>که په مطالعې کې شامل شوم، ایا زه به وکولی شم چې معلومه کړم چې کوم درمل ما ترلاسه کړي دي؟</u>**
هغه ناروغان چې د FDA لخوا تصویب شوي EFIC مطالعاتو کې ګډون کوي معمولا دوی ته کله چې مطالعه رنده وي دا نه ویل کیږي چې دوی کوم درمل ترلاسه کړي دي. دا پدې مانا ده چې نه ناروغ او نه د دوی ډاکټر ته دا ویل کیږي چې کوم درمل دوی ته ورکول کیږي ترڅو د درملو په وړاندې د تعصب مخه ونیول شي. ناروغ او ډاکټر دواړه به پدې خبر شي چې ناروغ د مطالعې درمل ترلاسه کړي، کوم چې یا fentanyl citrate او یا هم ketamine hydrochloride دي. دواړه درمل معمولا د درد درملنې لپاره کارول کیږي. که چیرې یو داسې څه پیښ شي چیرې چې د ناروغ پاملرنې ډاکټر دې ته اړتیا لري ترڅو پوه شي چې کوم یو درمل ناروغ ته ورکړل شوي دي، یو پلان شتون لري چې دا معلومات ژر تر ژره چمتو کړي.

**<u>ایا دا ممکنه ده چې راتلونکي څیړنه ممکن ناروغانو ته د رضایت پرته واکسین ورکړي؟</u>**
د PAIN مطالعه د واکسین ازموینه نه ده او د واکسین څیړنه د LITES شبکې لپاره د عملي کولو له ساحې څخه بهر ده. له همدې امله، موږ نشو کولی د واکسینونو په اړه اټکل وکړو چې د باخبره رضایت مطالعې څخه په استثنا یې ارزونه وکړی شي.